مرادزی ۲۰۰۹/۱۲/۰۱م

مذهبي سخت دريځي نړۍ ته پښتانه شاړوشډل ورپېژني !

پښتنانه چې د علامه اقبال په قول د اسيا د لويې وچې په ختيز لاښ کې د زړه حيثيت لري او د سويلي اسيا په ايتنيکي ګروپونو کې ترټولو زيات په خپلواکۍ ، ازادۍ ، پرمختګ او تمدن مېين قام دي په څو روستيو کلونو او په تېره بيا د ۲۰۰۱کال د سپټمبر ۱۱مې د نيويارک له پېښې روسته د محدودو مذهبي سخت دريځو ډلو ټپلو په لاس ؛ په نړۍ کې تر ټولو روسته پاتې ، تياره ، د ودې او پرمختګ دښمن ، د ګاونډيانو او نړيوالو سره بدچلنه ، له نړيوالو ترهګرو سره شريکباني ، د ښځو سره بدسلو که او دکلتور او تهذيب سره د نااشنا قام پټوګه راپېژندلی دی.
مذهبي سخت دريځو د پښتنو په ناغوښتې استازيتوب ، د نړۍ لومړی درجه بدماش او ترهګر اسامه بن لادين او د هغه نورعرب او عجم لنډه غر د پښتنو په زړه کندهار کې ځای په ځای کړل او پخپل دې ملي ضد کار سره يې نړۍ کې د پښتنو د ګوښه توب او نوم بدۍ لوبه چې نورو مذهبي سختلارو لا څو کاله وړاندې د پښتنو د سپکاوۍ او ورکاوۍ په موخه پيل کړې وه ، ښه توده کړه.
مذهبي توندلارو د پښتنو قومي مشران ، ښوونکي ، ډاکټران ، انجينران او پوهان ووژل ترڅو له پخواني پوه نسل څخه محروم شي. د نوي نسل لپاره يې ښوونځي او پوهنتونونه وتړل چې ګوندې د پښتنو زامن به د نوې عصر له زده کړو او مالوماتو ناخبره او بې تعليمه پاتې شي او له دې لارې به په اسانۍ سره راتلونکې کې له سيمې څخه د پښتنو د واک لمنه ټوله کړي او دلته به د يوه داسې اسلامي خلافت د بنسټ ډبره کيږدي چې د عربو بېلماځان او د پنجاب ديني ټيکداران او معامله ګران به يې د واک ستنې او پايې جوړوي او نالوستې پښتانه به يې وړيا نوکران او مزدوران وي.
همدارنګه د باميانو بتانو په الوځولو سره يې موخه دا وه چې پښتانه نړيوالو ته د کلتور او تهذيب دښمن ور په ګوته کړي.
بلخوا که د طالبانو په منځ کې سختلارو او ترهګرو د باميانو بتان چې د افغانانو لرغونی او تاريخي شتمنۍ وه له منځه يووړل ، د طالبانو اسلافو نورو مذهبي توندلارو بيا د کابل موزيم او ارشيف لوټ کړ او د کابلښار يې کنډواله کړ. که طالبي توندلارو په سرکونو او عامه لارو د افغانانو نجونه او ښځې په ډنډو او کوتکو وهلې ډبولې ، ملاعمر او نورو اخوندانو ورته فتوې صادرولې ؛ نو د دوی اسلافو د رباني او ګل بدين په مشرۍ بيا د ښوونځيو پر نجونو او نورو ښځو تيزابونه پاشل. دواړه مذهبي بدماشي ډلې چې يوې يې د حکومت په دننه کې بستره اچولې او پوخ ځای يې نيولای او بله يې له حکومته بهر پاتې ده او د واک پسې حيرت کې سوځي د يوه .... دوه غوړونه دي.
که دولتي واک کې دننه سختلارو د دولتي فساد په دودولو سره ؛ په کور دننه د پرمختګ ، ودانۍ او د افغانانو د سوکالۍ مخه ډب کړې او هېواد جوړېدا ته نه پرېږدي او په دې وسيله يې له هېواده بهر د نړيوالو په وړاندې د افغانانو پر مخ د شرم پزه پرېکړې ، خو له دولته بهر سختلارې بيا هغه چې په هېواد کې اباد اوجوړ دي ، له بېخه ورانوي او په دې توګه نړيوالو ته افغانان د جوړښت ، نويتوب او ودانۍ دښمنان ورپېژني.
دوی دواړو اړخونو د واک په پير کې ، يوخوا د افغانانو په ټولوژنه او د هېواد په هراړخيزه ورانۍ او بلخوا د نورو ولسونو او ملتونو په وړاندې د افغانانو په شرمېدو او سپکولو کې د تير تاريخ او بشريت په کچه ټول ريکاټونه مات کړي دي .
مذهبي توندلارې کومه ملي موخه او کړنلار نه لري . دوی د افغانستان د ملي ګټو ، تاريخ او وياړنو لپاره نه جنګيږي . طالبي سخت دريځو په ۹۰ ومو کلونو کې ويل چې موږ دولتي واک نه غواړو او کله چې د پاکستان په لاس جوړ ۷ او د ايران په لاس جوړ ۸ تنظيمه له افغانستان څخه جارو کړو ، نو پخواني پاچا ظاهرشا ته به بلنه ورکړو چې د واک پرګدۍ سپور شي . خو کله چې مزار يې ونيو ، هوا يې بدله شوه ، نه د ظاهرشا په کيسه کې شول او نه د افغان ملت. بن لادين يې راوغوښت او د نړۍ سخت دريځ يې په کندهار واکمن کړل او له افغانستانه سربېره يې نورې نړۍ لپاره د مذهبي سخت دريځو په زيږولو او استولو پيل وکړ .
افغانستان يې د نړيوالو ترهګرو اډه کړه او نړۍ ته يې د افغانستان له پټې ګواښونه پيل کړل. طالبي توندلارو له پاکستان او يو نيم عربي ملک پرته د افغانانو اړيکې له نورې نړۍ سره پرې کړې او ګاونډيان يې خپه او په ځان پسې راوپارول.
دې سخت دريځو پخپله ۵ ـ ۶ کلنه واکمنۍ کې د خپلو لومړيو جګړيزو برياوو پرته چې د شمالتلواله يې له هېواده پسې واخيسته او له جيحون يې ورتېره کړه ، نور کوم مثبت کار ترسره نکړ او تيره يې پر تيره کېښوده ! کافي ده چې په يوويشتمه پيړۍ کې د افغانانو د اقتصادي او کرهنيزه ستونځو د حل لپاره ، د کندهار په وچو ، لمروهلو او

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

تودو میدانو کې د اقتصادي علمي کړنلارې پرځای د دوی د هغه مهال د استسقآ لمونځونه راپه یاد کړو. دغو لمونځونو ته په ټول درناوي سره باید وویل شي چې دلته له دغو لمونځو څخه د طالبي سخت دریځو موخه د افغانانو د اسلامي سپیڅلو عقایدو څخه د خپلو سیاسي موخو لپاره ګټه اخیستل وو. دوی غوښتل چې افغانان د طالبانو له دولت څخه څه ونه غواړي . دوی افغانانو کې دا خبره او عقیده پوکوله چې کړاوونه د هغه مهال د ظالم او مستبد دولت او د هغه د تېر سلف د تګلارو پایله نه بلکې ، د بېوزله او بېوسه افغانانو د خپل عمل او ګوندي خرابي عقیدې پایله وه .
نن هم افغانان د هېواد په سویل کې د طالبي توندلارو او د هېواد په شمال ، مرکز او دولت کې د نورو مذهبي سخت دریځو سره د مرګ او ژوند په مبارزه کې ښکېل دي .
دا چې نن امریکایان په افغانستان کې د شتو ۶۸۰۰۰ سرتېرو سربېره نور ۳۰۰۰۰ سرتېري راليږي او د ایساف او ناتو د نورو سرتېرو سره نږدې یونیم لک سرتېري کیږي ، د نورو لاملونو ترڅنګ یې ټول مسؤلیت د مذهبي سخت دریځو پرغاړه دی. د لویدیځ په سوټه ماریو کې چې هر افغان وژل کیږي د هغه پړه په دولت کې دننه او د طالبي توندلارو پر اوږو بار ده. همدا مذهبي توندلارې او د دوی نړیوال ترهګر او القاعده ده چې د پښتنو سیمه یې یرغمل نېولې او په دې یرغمل سره په نامستقیمه توګه امریکایان ، انګریزان او نور لویدیځ ځواکونه سیمې ته راغواړي . یا داسې هم ویلای شو چې مذهبي توندلارې سیمې ته د لوېدیځووالو د راتګ وسیله ده. یا پخوا له دې چې لوېدیځوال سیمې ته د خپل واک د غزولو او نورو ستراتیژیکو ګټو ترلاسه کولو لپاره راشي، مذهبي توندلارې یې هست او رامنځته کړل ، ترڅو د دوی پر اوږو دې سیمې ته په اسانۍ راشي. په دې لامل توندلارې په سیمه کې د روانو ټولو بدبختیو ، جګړو، افغان وژلو او ټولوژنو پړه پرغاړه لري .
افغانان باید د مذهبي توندلارو په وړاندې خپل دریځ روښانه کړي. ترڅو چې د دوی په مقابل کې غوڅه او پریکونې مبارزه ونه شي او د دوی ریښتونی ماهیت ولسونو ته ښکاره نه شي ، مذهبي توندلارې به د یوه طاعون او وبا په څېر زموږ ولسونه وژني .
اوس دولت چې دا دی په ټولټاکنو سره یې واک پیاوړی شو ، لومړی باید له دولته د اداري فساد غله او ډاکوان او دولتي ترهګر وشړي. د مذهبي توندلارو له کتارونو څخه زموږ مرور ورونه راجلا کړي او له دولته سره یې یوځای کړي . د ترهګرو او القاعده په وړاندې یو غښتلی دریځ خپل کړي . ترهګر چې اډې یې د پاکستان په خاوره کې پرتې دي د نړیوالو د پاملرنې په رااړولو سره هملته ، وټکول شي . اته کلونه موږ وړیا له لاسه ورکړل ، راتلونکي کلونو کې باید ترهګر په هېواد کې ځای ونه لري .

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ